لیکوال: سراج الحق ببرک زی ځدران ۲۰۱۹/۰۹/۰۳

کله چې د پاکستان پوځ ترینه ګټه تر لاسه کوي، بیا پاکستان کې الکولي مشروبات بیر او ویسکي منع نه دي

د پاکستان پوځ د مري الکولي مشروباتو په شرکت کې ستره پانګونه کړي او ترینه ښه ډیره ګټه ترلاسه کوي.

سرچینه: د سویس هیواد، د نوی ځوغیشه ځیتونک ویبپاڼه

www.nzz.ch feuilleton

لیکوال: فلیب بروو، ژباړن: سراج الحق ببرک زی ځدران، د خپریدو نیټه: ۰۸،۲۳ ۲۰۱۹ ساعت ۵:۳۰ دقیقي

د مري الکولي مشروباتو فابریکه په پاکستان کې یوه تر ټولو د شرابو زړه فابریکه ده. دغه فابریکه په لوی لاس الکولي مشروباب تولیدوي. که څه هم په دغه اسلامي هیواد کې د ۱۹۷۷ کال راهیسي د الکولي شرابو څښل منع دي. خو د دې سربیره د سختو شرایطو وضع کولو لاندې اجازه ورکول شوي ده. ځکه دلته تل یو ځوک شتون لري او هغه چمتو دی، څو سترګې پرې پټې کړي.

ځوک چې د ,, پاکستان ,, نوم اوري، هغه لومړۍ په اسلامي سختدریځی، مذهبي تعصب او دولتي فساد باندې فکر کوي او هغه د کلونو راهیسي په ترهګرۍ باندې فکرکوي.

هیڅوک په Single –Malt--Whisky. (یو ډول مشهور انګریزي سکاټلنډي ویسکي دي) او ورسره د نیم درجن ډول الکولي بیرو تولیداتو باندې فکر نه کوي، په داسي حال کې دوی د ۱۲۰ کلونو راهیسي د شراب جوړولو هنر لري. دا خبره د هیڅ چا په ذهن کې هم نه ګرځي.

د پاکستان ۹۶ سلنه وګړي مسلمانان دي، د دوی ډیرې له مذهب سره ژوري اړیکي لري. دوی له دې سره هیڅ جوړ نه راځي او سړی هیڅ داسي فکر نه کوي، چې د دوی په هیواد کې یوه فابریکه وي او په هغه کې الکولي شراب ویسکي او بیر جوړیږي. که سړی وغواړي دا ډول فکر وکړي، خو هیڅکه دا فکر نه کوي، چې د شرابو فابریکي لپاره هلته یوه ځانګړي سیمه شتون لري.

تر ټولو لومړۍ باید د مري الکولي شرابو جوړولو فابریکي تاریخ وکتل شي. د دغي الکولي شرابو فابریکي مرکزي دفتر نن په راولپنډي کي د پلازمیني سلام اباد ته نږدې موقعیت لري اوهلته د فابریکي ټول ماشینونه او سامانونه شته دي.

په ۱۸۶۰ کال کې کله چې ټوله سیمه د برتانوي هند په نامه پیژندل کیده او د پاکستان هیواد نوم لا په راتلونکي کې شتون درلود، دې فابریکي د الکولي شرابو جوړولو په تولید باندې کار پیل کړي وه.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

پاکستانیان د خپل شراب جوړولو دود باندې ویاړي

هغمهال د انګریزي اعلیحضرتي سرتیري د شرابو سخت تږي وه. انګریزانو ته خورا ګرانه پریوته، څو له برتانیا څخه برتانوي هند ته الکولي بیر او شراب ولیږدوي. هغمهال انګریزي سرتیرو د مري بنار ګوتې په پخواني هیل لښکر کوټ کې د الکولي شراب جوړولو یوه فابریکه جوړه کړه. اوسمهال د مري سیمه اسلام اباد نږدې د هوسایینې او لیدلو لپاره یو ډیر ښه ځای دی.

په ۱۹۴۸ کال کې کله چې له دې سیمې څخه انګریزانو ووتل او د وتلو په ترڅ کې پاکستان رامنځ ته شو او د الکولي شرابو خپلواکه فابریکه یا شرکت هم رامنځ ته شو. ان هغمهال دا شرکت د هیواد په نورو بنارونو کې په پراخه کچه پراختیا ومنده. ټول هیواد ته د خرڅلو لپاره د الکولي شرابو محصولات لږدول کیدل. د شرابو پلورل په ټول هیواد کې ښه مذه او خوند سره روان وو. د هند د نیمې وچې ویښ په ګډوډیو کې تر یو میلیون پورې خلک ووژل شول. همدغه د شراب جوړولو تاریخي شرکت په اور کې وسوځید. نن ورځ په راولپنډي کې د فابریکې ماشینونو یا سامانونو یوازینۍ موقعیت دی، چیر ته چې الکول یا شراب تولیدیږي.

مور په غیرمعمولي توګه په خپل تاریخ او پر خپلو الکولي محصولاتو باندې ویاړو، دغه خبرې د CEO شرکت مشر اسفندیار محمد بهاندرا وکړه.

دغه خبرې د یکشنبې په ورځ د راولپنډي په بنار کې د شراب جوړولو شرکت ۴۷ کلن مشر په خپل مرکزي دفتر کې د روژې په مبارکه میاشت کې وکړې. د شرکت مشر داسې هم وویل، چې په دې میاشت کې د مشتریانو تګ راتګ او لیدنه دوه برابره کیږي، دا د پاکستان په شان هیواد کې یوه غیر معمولي خبره ده. معمولاً پاکستا ن کې د روژې په سپیځلي میاشت کې ډیرې شرکتونه د روژې له امله د ورځې په بهیر کې غلي کیږي او بندیږي. یا.لږ تر لږه یوازې تر یو محدود حد پورې کار کوي. سربیره پردې په پاکستان کې د سوداګرې ټول شرکتونه یوازې په اوونۍ کې پینځه کاري ورځې پیژني.

خو د مري الکولي شراب جوړولو په فابریکه د روژې په میاشت کې هم کار کیږي. دا فابریکه په اوونۍ کې شپږ ورځې شراب جوړوي.

د شرکت لیدنې پر مهال په ډیره ښه توګه سړی د بوتلو ډکولو نوي دستګاوې یا ماشیونه ویني، دغه د اوبو ډکولو ماشینونه او د اوبو فلترکولو ماشینونه د جرمني څخه تازه راوړل شوي دي. د شرابو جوړولو لپاره د څښاک اوبه او د شرابو جوړولو نور کیمیاوي اجزاوې په یوه ځانګړې لابراتوار کې کنترول کیږي. د شرابو جوړولو توکي د هیواد په کچه تر ټولو په غوره عصري زیرخونه کې ساتل کیږي. په دې زیرخونو کې شاوخوا یو میلیون لیټره ویسکی په دوامداره توګه د ذخیرې په ډول په زیرمتون کې ساتل کیږي. دلته په دې زیرخونه کې د ۲۰۰۳ کال د ویسکی تر ټولو زاړه بیرل ایښودل شوي دي.

د شرابو ممانعت یا بندیز، خو دلته زغمل کیږي

د اسفندیار محمد بهاندرا د شرابو شرکت د هیواد په بې ثباته او بدلیدونکي تاریخ کې زده کړې، چې ځان څنګه اعیار کړي. په ۱۹۴۸ کال کې کله چې دا هیواد رامنځ ته شو، دا هیواد یو سیکولر جمهوریت وه.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په ۱۹۵۶ کال کې يوازې خپل نوم يې اسلامی جمهوريت ته واړولو. په ۱۹۷۷ کال کې د لومړۍ وزير ذالفقارعلی بوټو د اسلامي ګوندونو د خوشالو لپاره يو نوی قانون تصويب کړو او دوی ته يې ډالۍ کړو. د دې قانون له مخې د شراب جوړولو فابريکې نوم او پيژندګلوي د تل لپاره وربدله کړل شوه.

د شرکت مشر وايي تر دې مهاله ټولو پاکستاني وګړو زمونږ الکولي مشروبات په قانوني ټوګه پيرل اوځښل. که څه هم دا قانون د اسلامی قوانينو او احکامو سره مخالفت او مغايريت درلود. د دې نوي قانون د حکم پر بنسټ ټولو مسلمانانو او د بهرنيانو په شمول نوره اجازه نه وه، چې په پاکستان کې الکولي مشروبات وپيري او وڅښي. د دې نوي قانون له کبله مونږ مجبور شو، ځان د نوي قانون سره اعيار کړو او له ځانه تنوع وښيو. له هغمهاله مونږ د ليمو شربت، غير الکولي مشروبات او حتی مربا هم توليد وو. په پيل کې مونږ د الکول د نه پلورلو له کبله ډيری سترې ستونزې درلودې او له ستر زيانونو سره مخامخ شوو او د خساري جبرانول ګران شول.

خو نن ورځ مونږ د الکولي مشرباتو د توليد او د پلورلو له امله ځښتي ډيری پيسې ګټو. دا خبر په ډير ويار سره د الکولي مشروبانو مشر بهاندارا وکړه. بهاندارا د هيواد د پارسيبانو لږکيو وګړو پورې اړه لري. اوس هم په پاکستان کې نامسلمانه خلک لکه همدا پارسيبانان، عيسويان يا هندوان يوازيني خلک دي چې په قانوني ټوګه د الکولي شرابو پيرلو او ځښلو اجازه لري. دا لږکي د پاکستان د ټول نفوس پينځه سلنه وګړي هم نه جوړوي. که په اټکلي ټوګه دا شمير خلک وګڼل شي، د دغې شرکت الکولي مشروباتو محصولات احتمالاً د نهه ميليونو بالقوه پيرېدونکو وګړو لپاره جوړيږي يا توليديږي.

د دې ځانګړې امتيازي ويار او د ښو اريکو له امله د شرکت مشر بهاندارا کورنې ته ۲۰۱۳ څخه تر ۲۰۱۸ کلونو پورې په پاکستاني پارلمنټ يا ولسی جرګه کې يوه سيټ ځانګړې ريزف ساتل شوي او ورکړل شوي وه.

پوځ په پاکستان کې تر ټولو ستر پياوړی اغيزمن ځواک دی. د پوځ دغه ستر ځواک د شرابو جوړولو شرکت په ګټه تمامیږي. پوځ د شرابو پلورلو، د شرابو پيريدو، له لاسه ورکولو يا ترولو سره او د شرابو اندازې او دوراني حالت سره هيڅ علاقه نه لري. او ان له هغه سره هم نه کوم چې ډيری محفاظه کاره مسلمانان د شرابو فابريکې ترل غواړي.

د پاکستان پوځ د مري په الکولي شرابو شرکت کې ستره پانګونه کړې ده او ډيره ښه ګټه ترينه ترلاسه کوي.

له ډيرو کالونو راهيسې په پاکستان کې دغه د الکولي مشروباتو شرکت د نورو شرکتونو په پرتله په ډيره چټکي سره وده کړې ده. يوازې د راولپنډي په ځانګه کې تر ۲۰۰ ډير کارګر په کار بوخت دي.

د شرابو فابريکه په لوړه امنيتي حوزه يا ډاډمنه سيمه کې ده

زما د شرابو فابريکې کارمندان په هيواد کې تقريباً زمونږ تولنه منعکسوي. دلته ډيرې کارګر مسلمانان دي، همدارنګه ډيرې پيريدونکي هم مسلمانان دي. بهاندارا وويل .

کله چې هغه په خپل دفتر کې له خپل مرستيال مشاور صبيح الرحمان سره خبرې کولې، دا سړی د پاکستان پوځ يو پخواني ميجر دی. دی له ډيرو کلونو راهيسې په دې شرکت کې کار کوي. دی د شرابو فابريکې ته د راتلونکو ميلمنو او د بهرنيو هيوادونو استازو او پلاوي سره د ليدنې کنټي مسوولیت په غاړه لري.

د صبيح الرحمان دغه مهمه دنده دلته تر پوښتنې لاندې ده، ځکه دغه د شرابو فابريکه د پاکستان پوځ په چک پاينټونو په منځ کې مواقعيت لري، تر سيمې خورا ډيرې امنيتي پوستې راتاو دي او ډاډمن امنيت نيولي شوي دی. دغې سيمې ته عام خلک هيڅ ورننوتلې نشي او نه لاس رسی ورته لري.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د دې بيساري کلکو امنيتي اقداماتو او تدابيرو نيولو لامل ډير لږ د شرابو په فابرکه او د شرابو په محصولاتو کې نغښتي دي، بلکې دلته په ريښتيايني مانا سره د پاکستان د پوځ لوی درستيز اوسيږي.د پاکستان په دولت کې د ولسمشر او لومړۍ وزير ورسته دويم ځواکمن سړی د پوځ لوی درستيز دي. د شرابو فابريکې ته مخامخ د پاکستان لوی درستيز د اوسيدو ځای او د کار دفتر دی. د پاکستان پوځ لوی درستيز تر سترګو لاندې د شرابو فابريکې محصولات چې په لفظي مانا کې هم نشي ترينه سترګې پټيداي. له دې نه بل ثبوت هيڅ نشته

پوښتنه دا ده، چې څنګه يو پاکستاني او يو بهرني وګړي د شرابو فابريکې الکولي محصولاتو ته لاس رسي مومي ؟

د ۱۹۷۷ کال د الکولو بنديز سره سره په پاکستان کې ځښت ډير هوټلونه، رستورانتونه او نور چينلونه شته چې په منظمه توګه په کې د شرابو پلورل او د شرابو څښل اجازه شته. که دا اداره شوي او جوازليک درلودونکي هوټلونه او رستورانټونه وشميرل شي، شمير يې تر پنځوس پورې رسيږي. کراچۍ نړۍ شل ميليونه نفوس لري، هلته د دريو نه تر پينځو د الکول پلورلو پلورنځي يا سوپرمارکيټونه شتون لري. د کراچۍ په ښار کې درې هوټلونه او يو رستورانټ شته، چې په کې الکول په ازاده توګه پلورل کيږي .

په رسمي توګه په پاکستان کې هر جواز لرونکي بايد چک کړي ا وګوري او چې ايا د شرابو اخيستونکي سړی د پيريدولو او مصرف کولو مستحق دی، که نه ؟ له دې امله پيريدونکي بايد د کورنيو چارو وزارت څخه يو اجازات ليک ترلاسه کړي.

لږ تر لږه د کراچۍ په يوازينۍ رستورانټ کې له تاسو څخه د يو بهرني په توګه د کاغذي جواز يا لايسنس پوښتنه نه کيږي د يو چينايي څخه هم په هوټل او رستورانت کې پوښتنه نه کيږي.

د شرابو پلورل په ډيره ګړندی، محتاطه او پټه توګه تر سره کيږي.

په دغه پلورنځی کې چيرې ته چې په لويه کچه او په لوړه سلنه الکولي مشروباتو سوداګري کيږي، له بهره ظاهراً هيڅ داسی يو پلورنځی نه پيژندل کيږي، يوازې د پلورنځی دروازې مخې ته ګڼ شمير واړه موترسايکل پارک شوي ليدل کيږي. د پلورنځی دروازې څخه يوې وړې خونې ته چې په اوسپنيزو پنچرو پوښلې شوی ده، ورننوځي. چيرته چې په خلکو کې ډيره وارخطايي، ناارامي او بيروبار حاکم بريښي. اټکل پينځلس پيريدونکو په خپلو اوږده کړل شويو لاسونو کې پيسې نيولي دي، څو د پلورنځي کارکوونکو ته د شرابو پيريدولو لپاره ورکړي. د پلورنځی کارکونکي د الکولي شرابو بوتلو په چينايي اخبارونو کې تاووي بيا يې پلاستيکي کڅوړو کې نغاړي. همدا ډول دغه توکی په ډيره ګړندي او په احتياط سره پلورل کيږي. اکثره مشتريان په ډيرشو ثانيو کې بيرته له دوکان څخه وځي. د جواز کاغذونو پوښتنه د هيڅا څخه نه کيږي. د پلورنځی څښتن يو هندو دی، دی د دې پوښتنې تصديق کوي، او وايي: دا يوه طبعيي خبره ده چې زما مشتريان اکثره مسلمانان دي. که ريښتيا ووايم ټول دي. په پاکستان کې خو داسي ده نو. د شرابو فابرکه موږ ته الکولي مشروبات راليږي او په پای کې موږ ټول د شرابو د عايداتو او ګټې څخه خوشاله کيږي .

حقيقت دا دی، چې په ټول پاکستان کې په قانونی توګه د الکولي مشربات کاروبار يا پيړ او پلور تر سره کيږي.
اسفنديار محمد بهاندارا دغه سوداګري ډيره ښه پوهيږي او پيژني، هغه وايي: زموږ ټول پيريدونکي قانوي جواز لري، دوی د حکومت څخه د الکولي مشروباتو کاروبار يا خرڅلو باورليکونه ترلاسه کړي دي. هغه دا هم وويل، ,,له څنګه چې دوی الکول پلوري ايا دوی واقعاً د هر پيرودنکي څخه د کاغذونو غوښتنه او پوښتنه کوي، دا د دوی مسوولیت دی، موږ پوري اړه نه لري، او موږ تر ورستي پيريدونکو پوري نه پلورو.,,

پای

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د شرابو فابریکې مشر اسفندیار بهادارا کینې لاس ته ناست او دی د خپلې امریت کرسۍ څخه د یو میټنګ له لارې د راوړپندې الکولي مشروباتو شرکت مرکزي دفتر ته هدایتونه ورکوي ، (د خبریال فلیب بروو انځور)

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د مري الکولي مشرباتو فابریکه منع او حرام الکولي مشربات تولیدوي، یوازې دا نه بلکې دوی المونیمي قطې کاروي. تر ډکیدو مخکې قطې په قطارونو کې کنټرولیږي، بیا د بیرو او نورو سفافت ډرنک یا نرم الکولو Softdrinks مشرباتو څخه ډکیږي او خرڅیږي، (د خبریال فلیب بروو انځور)

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

دلته ګرم توکي په سړو زیر خونو کې زیرمه شوي دي، شاوخوا یو میلیون لیټره ویسکي دلته ساتل کیږي.

(د خبریال فلیب بروو انځور)

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ